# جنوبي وزیرستان: تي تي پي ته یو بل لوی ګوزار
# د تي تي پي اختر محمد ډلې څو ترهګر وژل شوي

جنوبي وزیرستان: له افغان خاورې څخه د تي تي پي (اختر محمد مویزګي ګروپ) له ۴۰ تر ۵۰ ترهګرو هڅه وکړه چې د انګور اډې په سرحدي سیمه کې د پاکستان پر سرحدي پوسته برید وکړي۔ په پوسته کې مېشتو امنیتي ځواکونو پر وخت اقدام کولو سره برید شنډ کړ۔

**ناکامه برید کې د تحریک طالبان پاکستان ۱۵ ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ټپیان شوي دي۔ د پټو معلوماتو له مخې، تي تي پي وژل شوي ترهګر د پولې په اوږدو کې په المنزي او راکه سیمو کې ښخ کړي دي، چیرې چې ځایي خلکو ته د تګ اجازه نه ورکول کیږي۔**

**د ډزو په تبادله کې اسلامي امارت ته هم زیان اوښتی دی، چې وروسته د اسلامي امارت او پاکستاني امنیتي منسوبینو تر منځ سرحدي بیرغ غونډه ترسره شوه. دواړو خواوو د مسئلې د حل او په راتلونکي کې د ټپ تي پي د دغو کړنو د مخنیوي لپاره پر یوې ګډې ستراتیژۍ موافقه وکړه۔**

په شوال (ټنډه دره) کې د ۲ ترهګرو په ګډون د تي تي پي وروستیو وژنو د تي تي پي کمر مات کړی دی، په داسې حال کې چې د وزیرستان، ټانک او ډي آئي خان په ګډون په افغانستان کې د ترهګرو پر مخ زمکه تنګه شوې او دوی ته په هیڅ ځای کې د پټېدو موقع نه مومي۔